اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

فيضانِ امام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

دعائے عطّار: يا ربّ كريم! څوك چې دا رساله "فيضانِ امام بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه" اولولي يا ئې واوري، هغه ته د امام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشقِ رسول نه حصَّه عطا كړې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د درود شريف فضيلت

د الله پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: څوک چې په ما باندې يو ځل درود شريف اوليږي، الله پاك به په هغه باندې لس ځله رحمتونه نازل كړي.
(مسلم شريف،ص172حديث912)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

بيرته بِينا شو (حكايت)

د يو وړوكي ماشوم والد وفات شوے وو، د **الله** پاك كار وو چې په ماشوم والي كښې هغه [ماشوم] په سترګو نابينا شو. د هغه نيك سيرته والِده صاحِبه ډيره خفه شوه، هغې د خپل بچي علاج هم اوكړو خو د هغه د سترګو نظر بيرته رانغلو، بے وسه مور ئې ډيره پريشانه شوه، هغې به د دې غمه ژړل او د **الله** پاك نه به ئې د خپل بچي د بِينائي بيرته راتلو دُعاګاني كولې، د الله پاك رحمت په جوش كښې راغلو او په هغې نيكه بي بي باندې ئې رحم اوفرمائيلو. داسې اوشو چې يوه شپه د هغې قِسمت بيدار شو، په [illegible] كې ي[illegible]ته د الله پاك خليل حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او ورته ئي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارشاد اوفرمائيلو: الله پاك ستا د دُعاګانو په وجه ستا د بچي سترګي بينا کړي دي. سحر چي راپاڅيدله نو خپل خوږ ماشوم ئي اوليدلو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغه سترګي بينا شوي وے.

(تفهيمُ البُخاری، ج1، ص4 مُلَخَّصاً)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! آيا تاسو ته معلومه ده چي هغه خوش نصيبه ماشوم څوك وو؟ آو جي! هغه ماشوم وروسته لوئي مُحَدِّث جوړ شو، او هغوئي د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په نوم ياديږي. **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تعارُف

امام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په 13 شوال 194 هجرئ کښې د جُمعې مبارکې په ورځ (د اُزبکستان په يو ښار) بُخارا کښې پيدا شو. د هغوئي نوم مُحَمَّد او کنيت ابو عبدُ الله دے. (فتح البارى، ج1، ص452) د هغوئي په القاباتو کښې دا هم دي: اَمِيرُ المُؤمِنين فِي الحديث، حافِظُ الحديث، ناصِرُ الاحاديثِ النَّبَوِيَّه، حِبرُ الاسلام، سَيِّدُ الفُقَهاءِ وَالمُحَدِّثِين، اِمامُ المُسلِمِين او شيخُ المُؤمِنِين وغيره. (سير اعلام النبلاء، ج10، ص299، طبقاتُ الشافعيه الكبُرٰى، ج2، ص212، مقدمه نُزهةُ القارى، ج1، ص106، الاعلام للزركلى، ج6، ص34)

د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه والد صاحب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د امام بُخارى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه والد صاحب حضرت اسماعيل بِن ابراهيم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِمام مالك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه شاګرد او ولیِ کامل حضرت عبدُالله بِن مبارك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه صحبت يافته وو. د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د تقوٰى او پرهيزګارئ عالَم دا وو چي خپل مال و دولت به ئي د شُبهاتو (داسي خيزونه چي د هغي په حلال او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرام كيدو كښې شك وي د هغې) نه بچ ساتلو. د وفات په وخت كښې ئې ارشاد اوفرمائيلو: زما سره چې خومره مال دے زما د علم مطابق په هغې كښې يو هم شك والا درهم نشته. (ارشاد الساری، ج1، ص55) د الله پاك دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نہ مجھ کو آزما دُنیا کا مال و زر عطا کر کے عطا کر اپنا غم او چشمِ گریاں یا رسولَ اللہ

(وسائل بخشش مرمم ص 340)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د نيكو والدينو بركتونه

خورو او محترمو اسلامي ورونړو! د امام بُخاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د والد تقوٰی او پرهيزګارئ څه شان وو، واقعي شك والا مال نه بچ كيدل لوئ كمال دے، خو افسوس! نن د شك والا مال نه بچ كيدل خو لا لرې خبره ده، خلق د حرامو نه نه بچ كيږي، ياد لرئ! د حرام مال غټ سپيروالے دے، حرام مال د نسلونو كردار بربادولے شي، د خپل اولاد د شريعت و سُنَّت مطابق پالنه كولو سره سره حلال كټلو او حلال خوړلو ضرور خيال ساتئ، كښې ياد ساتئ! د حرام مال خوړلو سپيروالي په وجه به د قيامت په ورځ سخته سزا دركولے شي، يو دردناك روايت واورئ او دحلال كټلو، حلال خوړلو فِكر اوكړئ، خدائ دِ نكړي كه چرته مو حرام مال حاصل كړے وي نو د هغې نه رښتيني توبه اوكړئ او د هغې په باره كښې د مفتيءِ اسلام نه رهنمائي واخلئ او ځان خلاص كړئ كښې سخته پريشانه كيدے شئ.

د بدنصيبه خاوند او پلار (حكايت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په روايت کښې دي: د سرې سره تَعَلُّق لرونکو کښې به ورومبې د هغه بي بي او د هغه اولاد وي، دا ټول (يعنې بي بي، بچي به په ورځ د قيامت) د الله پاك مخې ته ولاړ وي، عرض به اوکړي: اے زمونږه ربه! مونږ ته د دې کس نه زمونږه حق راکړې، ځکه چې ده کله هم مونږ ته د ديني کارونو تعليم نه دې راکړے او ده به په مونږه "حرام" خوړلو او مونږ ته د هغې علم نه وو، بيا به هغه کس د "حرامو په ګټلو" دومره اووهلے شي چې د هغه غوښه به اورژيږي، بيا به هغه کس د ميزان [د تلے] خوا ته راوبستے شي، فرښتې به د غر همره د هغه نيکۍ راوړي، نو د هغه بال بچو نه به يو کس په را مخکښې کيدو اووائي: زما نيکۍ لږې دي، نو هغه به د هغه د نيکو نه واخلي، دغه شان د هغه د کور افراد به د هغه ټولې نيکۍ واخلي او هغه به خپل اهل و عيال ته په ډيره مايوسۍ اوګوري او اووائي به: اوس زما په څټ باندې هغه ګناه او ظلمونه پاتي شو کوم چې ما ستاسو د پاره کړي وو. فرښتې به اووائي: دا هغه (بدنصيبه) کس دے د چا نيکۍ چې د هغه د کور کسانو واخستې او دا د هغوئي په وجه دوزخ ته لاړو. (قرة العيون، ص401، نيکيوں کی جزائيں اور گناہوں کی سزائيں، ص93)

يارب بچالے تُو مجھے نارِ جحيم سے اولاد پر بھی بلکہ جہنّم حرام ہو

(وسائل بخشش مرمم ص 340)

د نيك کار سره د حرامو اخستل خرڅول

د الله پاك آخري نبي مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: د قيامت په ورځ به څه خلق پيش کړے شي د کومو سره چې به د تِهامه د غر برابر نيکۍ وي خو چې کله هغوئي راوبستلے شي نو الله پاك به د هغوئي ټولې نيکۍ باطلې کړي او بيا به هغوئي دوزخ ته غوزار کړے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرض اوکړے شو: یَـارَسُـولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د دې څه وجه ده؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغه خلقو به لمُونځونه کولو، زکوٰة به ئې ورکولو او حج به ئې کولو خو چې کله به د هغوئې مخې ته حرام راغلل نو هغه به ئې اخستلو الله پاك د هغوئې اعمال باطل کړه.

(کتاب الکبائر، ص136)

جو ڈاکا نیں خیانت سے چمکائیں گے ! کیا اُنہیں زَر کے انبار کام آئیں گے ؟
قہرِ قہار سے کیا بچا پائیں گے ؟ جی نہیں، نارِ دوزخ میں لے جائیں گے

خوفناك آواز

په يو بل حديثِ پاك کښې دي: چا چې د حرام يو څيز خوړلے وي د هغه په خيټه کښې به اور بل کړے شي او هغه چې کوم وخت د خپل قبر نه را پاځي ټول مخلوق به د هغه د خوفناك آواز نه اوريږي ترديٍ چې الله پاك به د مخلوق په مينځ کښې کومه فيصله فرمائي اوبه فرمائي.

(قرة العيون، ص392)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که مور و پلار په قرآن و حديث باندې عمل کوونکي، د الله ويره لرونکي وي نو اولاد به هم د مور وپلار په فيض سره د تقوٰی و پرهيزګارئ په لاره روان وي. د امام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مور و پلار ته د عبادت و پرهيزګارئ دُنياوي نفع کومه چې دې حضراتو ته نصيب شوه هغه د هغوئې د ځوئ "اِمامُ المُحَدِّثين" کيدو په صورت کښې نصيب شوه، کوم چې په ټوله دُنيا کښې خلق د "اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه" په نوم سره ياد ساتي او د هغوئې د ليکونکي مشهور کتاب "صحيح بُخاري" د فيضان نه مالا مال کيږي.

بے ادب ماں باآدب اولاد جن سکتی نہیں معدنِ زر معدنِ فولاد بن سکتی نہیں

(c) ketabton.com: The Digital Library

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د نيك والدينو بركتونه

حضرت عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمافرمائی: بيشكه الله پاك د انسان د نيكو كارئ په وجه د هغه اولاد او اولاد، در اولاد [يعني ځامن، نمسي او د نمسو د ځامنو] اصلاح فرمائي او د هغه د نسل او ګاونډيانو حفاظت كوي او هغه ټول د الله له طرفه په پرده او امان كښې اوسي. (تفسير درمنثور، ج5، ص422)

پیرو مرشد پر مرے ماں باپ ہو سدا رحمت اے نانائے حسین

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د حديثِ پاك په مباركه دُنيا كښې چې كومه مرتبه او مقام امام بُخاري رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ ته حاصل شوي دے د هغې مثال ډير اوچت دے، هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ ته په لكونو احاديثِ مباركه زباني ياد وو، په هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ باندې د الله پاك او د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاص فضل و كرم وو. امام بُخاري رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ يو ځل خوب اوليدلو چې زه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بدن مبارك نه مچان شړم، په خوب ليدلو ډير پريشانه شو چې د حُضُورِ اكرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارك بدن باندې كله هم مچان نه دي ناست. علمائے كرامو د خوب دا تعبير بيان كړو: چې تاسو ته دِ مبارك شي، په احاديثو كښې چې چا [د خپل ځان نه څه الفاظ] ملاؤ كړي دي هغه به تاسو پاك و صاف كړئ.

(مقدمه فتح البارى، الفصل الاول، ج1، ص9)

د اُستاذ نظر كوم ځائ ته اورسولو (حكايت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت امام محمد بِن اسماعيل بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د امام اعظم ابوحنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه قابل ترين شاګرد اِمام محمد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت بابرکت کښې حاضر شو او په فقه کښې ''کتاب الصلوٰة'' ئې زده کول شروع کړه. اِمام محمد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې کله د هغوئي طبيعت علمِ حديث طرف ته مائل اوليدلو نو هغوئي ته ئې اوفرمائيل: ''تاسو لاړ شئ او علمِ حديث حاصل کړئ.'' چې کله اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خپل اُستاذِ محترم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مشوره قبوله کړه او علمِ حديث حاصلول ئې شروع کړه نو ليدونکو اوليدلو چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ټولو اَئِمَّه حديث نه مخکښې شو.

(راهِ علم، ص36، تعليمُ الْمُتَعَلِّم، ص52)

د ښلوېښتو کالو پورې ئې وچه ډوډئ خوړله (حکايت)

اے عاشقانِ اِمام بُخاري! اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د علم د طلب په دوران کښې بعضې وخت وچ بوټي خوړلي دي او وخت ئې تير کړے دے، هغوئي به په ورځ کښې صرف دوه يا درے بادامه خوړل. يو ځل بيمار شو نو ډاکټرانو اووئيل چې د اوچې ډوډئ خوړلو په وجه د دوئي کولمې اوچې شوي دي، هغه وخت هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: د ښلوېښتو کالو نه زه اوچه ډوډئ خوړم او په دې موده کښې ما بالکل سالن [يعني اينګولے] نه دې خوړلے.

(تذکرة المُحَدِّثين، ص183 بتغيرٍ)

باکمال قُوَّتِ حافظه (حکايت)

حضرت محمد بِن ابي حاتم فرمائي: ما د حاشد بن اسماعيل او يو بل بُزُرګ نه اوريدلي دي، هغوئي دواړه بيانوي چې اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په کم عمر کښې زمونږ سره علمِ حديث حاصلولو د پاره د بصرې د علمائے کرامو په خدمت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضريدلو، د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه علاوه مونږ تولو ملګرو به احاديث محفوظ کولو د پاره ليکل، شپاړس ورځو تيريدو نه پس يوه ورځ مونږه اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اورټلو چې تاسو احاديث محفوظ نه کولو په وجه د دومره ورځو محنت ضائع کړو. د دې په اوريدلو اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه مونږ ته ارشاد اوفرمائيل: ښه ده تاسو خپل ليکونکي صفحې راوړئ، مونږه خپلې خپلې صفحےراوړې، اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه احاديثِ مبارکه زباني لوستل شروع کړه، تردې چې هغوئي د پينځَلَّس زرو نه زيات احاديث زباني واورول، د دې په اوريدلو زمونږ ګمان شو چې مونږ ته دا روايات اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ليکلي دي.

(ارشاد الساری، ج1، ص59 مفهوماً)

اويا زره احاديث ورته ياد وو (حکايت)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْهبه چې کوم کتاب يو ځل اوکتلو هغه به ورته زباني ياديدلو. د علم حاصلولو په شروع ورځو کښې هغوئي رَحْمَةُ اللهِعَلَيْهته اويا زره احاديث زباني ياد وو او وروسته دا شمير درې لکو (يعني 3 لاك) ته اورسيدلو، يو ځل حضرت سُليمان بِن مجاهد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د حضرت محمد بِن سلام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو نو حضرت محمد بِن سلام رَحْمَةُاللهِعَلَيْهحضرت سُليمان بِن مجاهد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته اوفرمائيل: که تاسو لږ ساعت مخکښې راغلي وے نو ما به تاسو ته هغه ماشوم ښودلے وے کوم چې د اويازره احاديثو حافظ دے. دې هيرانوونکي خبره اوريدلو باندې د حضرت سُليمان بِن مجاهد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په زړه کښې د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سره د ملاقات کولو شوق پيدا شو، د حضرت محمد بِن سلام رَحْمَةُاللهِعَلَيْهد محفل فارغيدو نه پس حضرت سُليمان بِن مجاهد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه لټون شروع کړو، چې کله ئې (د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْهسره) ملاقات اوشو نو حضرت سُليمان بِن مجاهد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اوفرمائيل: آيا د اويا زره احاديثو حافظ تاسو ئې؟ د دې په اوريدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اوفرمائیل: آو جي! زه هم هغه حافظ یم، بلکه ما ته د دې نه زیات احادیث یاد دي او د کومو صحابهٔ کرامو علیهِمُ الرِّضوان او تابعینو علیهِمُ الرَّحمه نه زه روایت کووم په هغوئي کښې د اکثرو تاریخ پیدائش، د اوسیدلو ځائ او تاریخ وفات هم پیژنم.

(ارشادالساری، ج1، ص59)

د حافظے مضبوطیدلو یو راز

د اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه تپوس اوکړے شو: آیا د حافظے مضبوطولو هم څه دوا شته دے؟ هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اوفرمائیل: دوا خو را ته معلومه نه ده، البته ما ډیره توجه او استقامت سره مطالعه کول د قُوَّتِ حافظه د پاره ډیر فائده مند موندلي دي.(فتح الباری، ج1، ص460)

د امام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه حدیث داني

محمد بِن اسحٰق بِن خُزیمه رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ما د آسمان لاندې د محمد بِن اسماعیل بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه زیات د حدیث یو عالِم او حافظ نه دے لیدلے، تردې پورې وئیل کیږي چې کوم حدیث "محمد بِن اسماعیل" نه پیژني هغه حدیث نه دے.

بُخاري شریف ئې څنګه لیکلے دے؟

اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ما چې کله هم په خپل کتاب (**صحیح بُخاری**) کښې د حدیث لیکلو اراده کړې ده نو د هغې نه مخکښې مې غُسل کړے دے او دوه رکعته لمُونځ مې ادا کړے دے. ما په دې کتاب کښې موجود احادیث د شپږ لکو احادیثو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه منتخب کړي دي، ما په شپاړسو کالو کښې دا کتاب ليکلے دے او دا کتاب زما او د الله پاك په مينځ کښې حُجَّت (يعني دليل دے) دے. (المُستطرف، ج1، ص40)

د بُخاري شريف مقبوليت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! داسې خو امام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډير کتابونه ليکلي دي، خو کوم مقبوليت او شُهرت "بُخاري شريف" ته حاصل دے بل کتاب ته نه دے حاصل شوے، اِمام ابوزيد مَروَزِی رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: زه يو ځل په مکه مکرمه کښې د مقامِ اِبراهيم او حجرِ اسوَد په مينځ کښې اوده ووم چې په خوب کښې مې د الله پاك آخري نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت اوکړو، نبـي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اے ابو زيد! زما د کتاب درس ولے نه ورکوے؟ ما عرض اوکړو: يَا رسُـولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما ځان په تاسو قربان! ستاسو کتاب کوم يو دے؟ حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د محمد بِن اسماعيل (يعني د امام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه) کتاب "بُخاري شريف".

(بستانُ المُحَدِّثين، ص274، 275 ملتقطاً)

د بُخاري شريف شان و عظمت

اے عاشقانِ رسول! د بُخاري شريف په باره کښې وئيل کيږي: "**اَصَحُّ الۡكُتُبِ بَعۡدَ كِتَابِ اللهِ الصَّحِيۡحُ الۡبُخَارِی**"يعني د قرآنِ کريم نه پس د ټولو نه دُرُست کتاب "صحيح بُخاري" دے. د دې کتاب پورا نوم دا دے: "**اَلۡجَامِعُ الۡمُسۡنَدُ الصَّحِيۡحُ الۡمُخۡتَصَرُ مِنۡ اُمُوۡرِ رَسُوۡلِ اللهِ وَسُنَنِهٖ وَ اَيَّامِه**". حضرت علامه علي قاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: بُزُرګانو ليکلي دي: که يو مشکل کښې "صحيح بُخاري" اولوستې شي نو هغه مشکل به لرې شي او دا کتاب کومه کشتئ کښې وي هغه به نه ډوبيږي، د قحط (يعني باران نه کيدو) په وخت کښې دا اولوستې شي نو باران کيږي. حضرت امام اَصِيلُ الدِّين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د خپل ځان او نورو خلقو د مشکلاتو او پريشانئ د پاره د "صحيح بُخاري"

(c) ketabton.com: The Digital Library

120 ځله ختم کړے دے نو ټول مرادونه او ضرورتونه مې پورا شوي دي، دا ټول برکتونه د سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي.
(مرقاۃ، ج1، ص54)

حضرت مفتـی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په مصيبتونو کښې ختمِ بُخاري کيږي، د دې په برکت او د الله پاك په فضل سره مصيبتونه ختميږي.
(مرآۃالمناجیح، ج1، ص11 مفهوماً)

د اِمام بُخاري عاداتِ مُبارَکه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! شپه ورځ يو کولو سره او خپل مقصد پورا کولو جذبے سره کاميابي او ترقي حاصليږي، په فضول کارونو کښې ورځ ضائع کول او شپې په غفلت کښې تيروونکي خلق هيڅ کله کاميابي نه شي حاصلولے، امام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به د عيش و عشرت نه لرې اوسيدلو، د شبهاتو نه ځان بچ کيدل ورته د پلار نه په ميراث کښې ميلاؤ وو، د حقوقُ العبادو په حفاظت کولو کښې يو مثالي نمونه وه، د عشقِ رسول کيفيت ئې دا وو چې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ويښته مبارك ئې ځان سره ساتلو. هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به ډير کم خوراك کولو، د خپل نِيَّت ئې ښه حفاظت کولو.

د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عبادت ذوق هم مثالي وو، ټوله شپه به ويخ پاتي کيدلو او عبادت به ئې کولو، ډير زيات نفلونه به ئې ادا کول، هره ورځ به د نيمې شپې پاڅيدلو او لس سيپارې تلاوت به ئې کولو، په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به ئې هره ورځ د يو قرآنِ پاك ختم کولو، په تراويح کښې قرآنِ پاك ختمول د هغوئي په معمولاتو کښې شامل وو. (سير اعلام النبلاء، ج10، ص303،تهذيب الاسماء واللغات، ج1، ص93، طبقاتُ الشافعيه الکبرٰی، ج2، ص224)

د امام بُخاري روزګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! امام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه زميندار او سوداګر وو، هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته د پلار نه په ميراث کښې ډير مال پاتي شوے وو کوم ئې چې په مضارَبَت ورکړے وو. (مصابيح الجامع للدماميني، ج5، ص49، فتح الباري، ج1، ص454)

يو ځل هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: ما ته به هره مياشت 500 درهمه ګټه راتله او ما به هغه ټول د علم په طلب کښې خرچ کوله.

(سير اعلام النبلاء، ج10، ص309)

د شهدو مچۍ 17 ځله اوچيچلو (حکايت)

اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يوه ورځ لمُونځ ادا کولو، د شهدو مچۍ هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه 17 ځله اوچيچلو، د لمُونځ پورا کولو نه پس ئي اوفرمائيل: لږ اوګورئ دا څه شيز دے کوم چې په لمَانځه کښې ما ته تکليف راکولو؟ شاګردانو چې اوکتل نو د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ملا 17 ځائ پرسيدلي وه. امام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د شهدو مچۍ 17 ځله چيچلو باوُجود لمُونځ نه ماتولو مُتَعَلِّق اووئيل: ما د يو آيت تلاوت کولو او زما دا خواهش وو چې زه دا آيت پورا کړم. (هدى السارى مقدمه فتح البارى، ص455 ملتقطاً)

اے عاشقانِ رسول! تاسو اوليدل! په لمَانځه کښې د خشوع انداز! الله پاك دِ د امام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په برکت مونږ ته هم د عبادت او تلاوتِ قرآن توفيق رانصيب کړي.

بنادے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ گناہوں سے ہر دم بچا یاالٰہی
عبادت میں گزرے مری زندگانی کرم ہو کرم یاخدا یاالٰہی

(وسائل بخشش مرمم، ص105)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمات ادب

يو ځل اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په جمات کښې وو، يو کس د خپلې ګيرې نه ډکے ويستلو او په جمات کښې ئې غوزار کړو! هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه پاڅيدلو او هغه ډکے ئې په خپل لستونړي کښې کېښودو چې کله د جمات نه بهر شو نو غوزار ئې کړو. (تاريخِ بَغداد، ج2، ص13)

کله ئې هم غِيبَت نه دے کړے

اِمام بُخاري فرمائي: زه اُمّيد کووم چې د الله پاك په بارګاه کښې به په داسې حال کښې حاضريږم چې هغه به زما نه د غِيبَت حساب نه اخلي ځکه چې ما د چا غيبت نه دے کړے. (تاريخِ بَغداد، ج2، ص13)

نيت بدليدل ئې خوښ نه کړل (حکايت)

حضرت بَکر بِن منير رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيانوي: يو ځل يو کس اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ته سامان را اوليږلو، د ماښام په وخت کښې د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه خوا ته يو څو سوداګر راغلل او د پينځه زره (5000) درهمه نفع په بدله کښې ئې هغه سامان اخستل غوښتل نو هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: نن شپه صبر اوکړئ، په دويمه ورځ د سوداګرو دويمه ډله راغله، هغوئي د لس زره (10000) درهمو په نفع د اخستلو پيش کش اوکړو، امام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: پرون چې کوم سوداګر راغلي وو، ما په هغوئي باندې د خرڅولو نيت کړے وو، بيا هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه هغه سامان خرڅ کړو او اوئې فرمائيل: ما خپل نيت بدلول نه خوښولو.

(تاريخِ بَغداد، ج2، ص12 ملتقطاً)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د الله والؤ هم څه بنه شان دے، ديني مُعامَله وي يا دُنياوي، دا حضرات په يو حال کښې هم د الله پاك د ويرې نه نه بے ويرې کيږي بلکه په هر حال کښې د خپل نيت او زړه حفاظت کوي، کاش! چې د نن دور سوداګر هم د امام بُخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پيروي اوکړي او په رښتيا او امانت دارئ سره کاروبار اوکړي نو په زرق کښې به د خيروبرکت سره سره ډير اجر و ثواب اوګټي.

د خرڅوونکي د پاره د ويرې خبره

اِمام محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د قيامت په ورځ به سوداګر د هر هغه کس سره اودرولے شي چا چې په هغه څه خيز خرڅ کړے وي او د کومو خلقو سره چې د هغه اخستل خرڅول شوي وي د هغوئي د شمير برابر به د هغه نه حساب واخستې شي. (اِحياء العلوم، ج2، ص111)

عاشقِ مال اس میں سوچ آخر کیا عروج و کمال رکھا ہے؟
تجھ کو مل جائے گا جو قسمت میں تیری رزقِ حلال رکھا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اُستاذانو او شاګردانو شمير

اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې وفات کيدلو نو لس اتيا زره (90000) شاګردان او مُحَدِّثين ئې پريښودي وو. (ملفوظاتِ اعلٰی حضرت، ص238)

شارِح بُخاري مفتى شريف الحق امجدي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکي: د اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د اُستاذانو شمير يو زر اتيا دے. (نُزهَةُ القاری، ج1، ص119)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امام بُخاري نصیحت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به اکثر دا اشعار لوستلو:

اِغْتَنِمْ فِي الْفَرَاغِ فَضْلَ الرُّكُوْعِ   فَعَسَىٰ اَن يَّكُوْنَ مَوْتُكَ بَغْتَةً
كَمْ صَحِيْحٍ رَأَيْتُ مِنْ غَيْرِ سَقَمٍ   خَرَجَتْ نَفْسُهُ الصَّحِيْحَةُ فَلْتَةً

ترجمه: (**1**) د فراغت په وخت کښې رکوع او سجود (یعني نفل لمُونځ) غنیمت اوګنړه، نِزدې ده چې تا ته به مرګ ناڅاپه راشي. (**2**) ما ډیر داسې صحت مند خلق لیدلي دي کوم چې څه ناجوړه نه وو او ناڅاپه د هغوئي روحونه اووتل.
(مُکاشفةُ القلوب، ص 271)

آخرت کی کرو جلد تیاریاں موت آکر رہے گی تمہیں بے گماں
موت کا دیکھو اعلان کرتا ہوا سوئے گورِ غریباں جنازہ چلا
کہتا ہے، جامِ ہستی کو جس نے پیا وہ بھی میری طرح قبر میں جائے گا
تم اے بوڑھو سُنو! نوجوانو سنو! اے ضعیفو سنو! پہلوانو سنو!
موت کو ہر گھڑی سر پہ جانو سنو جلد توبہ کرو میری مانو سنو!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم په دربار کښې د امام بُخاري انتِظار

حضرت عبدُ الواحد طَوَاوِیسی رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بیانوی چې ما په خوب کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت اوکړو، خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سره په یو مقام ولاړ وو، ما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې سلام عرض کړو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سلام جواب را عطا کړو. ما د اودریدلو سبب معلوم کړو نو هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "زه د محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِن اسماعيل بُخاري انتظار کووم. " څه ورځې پس معلوم شو چې امام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه وفات شوے دے. په تحقيق کولو پته اولګيدله چې په کومه شپه د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه وفات شوے وو هم په هغه شپه ما د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت کړے وو. (سِيَر اعلام النبلاء، ج10، ص319)

اے عاشقانِ امام بُخاري! اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په يکم شوالُ الۡمُکَرَّم 256 هجرئ (د اختر په شپه) د 62 کالو په عمر کښې وفات شوے دے. د يوے مودے پورې د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د قبر مبارك نه د مشك و عنبر نه زياته ښکلي خوشبوئي راتله. بار بار به په قبر مبارك خاوره اچولے کيدله خو خلقو به د تَبَرُّك په وجه خاوره وړله. (طبقاتُ الشافعية الکبرٰی، ج2، ص232، 233 مفهوماً) د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مزار مبارك سمرقند (اُزبکِستان) ته نِزدې خرتنګ نامې علاقه کښې دے. (سِيَر اعلام النبلاء، ج10، ص319، 320)

د امام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د مزار برکتونه

حضرت ابوفتح سمرقندي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: په سمرقند کښې قحط راغلو (يعني د باران نه کيدو په وجه د غذا کمے شو). خلقو ډير ځله "د استسقٰى لمُونځ " اوکړو، دُعاګانې اوغوښتلې خو باران اونشو، بيا يو نيك سړے د [سمرقند] ښار قاضي خوا ته لاړو او هغه ته ئې مشوره ورکړه چې تاسو د اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه مزار شريف ته لاړ شئ او هلته د الله پاك نه د باران دُعا اوغواړئ کيدے شي چې الله پاك ستاسو دُعا قبوله کړي. د ښار قاضي دا مشوره قبوله کړه، د ښار خلق ئې ځان سره کړو او د امام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه مزار شريف ته حاضر شو، خلقو هلته ډيره په زاريئ او ژړا د الله پاك نه په عاجزئ او انکسارئ دُعا اوغوښتله او د امام بُخاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په وسيله ئې د دُعا سفارش اوکړو. هغه وخت په آسمان کښې وريځے راغلے او ووه ورځې مسلسل دومره زيات باران اوشو چې خلق په "خرتنګ" کښې حصار شو څکه چې د زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

باران په وجه سمرقند ته رسيدل مشكل شوي وو. (د خرتنګ نه سمرقنده پورې د دريو ورځو فاصله ده.) (ارشاد الساری، ج1، ص67) **د الله پاك دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.** اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اللّٰہُ غنی! شانِ ولی! راج دلوں پر دُنیا سے چلے جائیں حکومت نہیں جاتی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library